مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

داکتر صلاح سعیدي ۲۰۲۴/۰۵/۰۶

# د دښمن د خدمت بېلګي

داسي اظهارات او لیکني چي اوسني پاکستان کي مېشتو خلکو ته د پاکستاني قوم اطلاق او دا کار ونه خطاء او د ای اس ای له اوږدو برنامو او افکارو ته و لو په غېر عمدي ډول خدمت او حد اقل اړخ لګول دي!
د پاکستان خلک / خلق یعني څه؟
په دي تأکید هلته خلکو مبارزو ته توهین او خفه کوئ!
په دغو افادو بو ډول د پاکستاني استابلشمنت ادبیات چي پاکستان ته قوم او ملت وایي، ورته کار کوئ او یا هم له، په حالت کي همغږي او کلک نږدي یاست!
پاکستان نه ملت دی او نه قوم!
اوسني ناروا پاکستان کي پنجابیان او دا پنجابي تستابلشمنت د سیمي اصلي جابران او ښکیلاک ګر حاکمان دي. مونږ هغلته هم د ددي سیمي د مظلوم خلکو سره مشکل نه لرو او زمونږ اختلاف د جبار استابلشمنت سره جګړه او مبارزه ده، نو تاسي خو ټولو پنجابیانو ته په ټیټه کتلای نه شئ!
اوسني ناروا پاکستان کي پښتانه میشت دي چي ددوی د ۵۰۰ قیامو په پایله کي نیم افغانستان د وقت د استعمار له سلطي خپله آزادی واخیسته او اعلان کړه (۱۹۱۹) او دغه خلکو، وینه مو ګډه ده، تر دا ننه را سره خپل کور او ډوډی نیمه کړي!
اوسني ناروا پاکستان کي بلوچان میشت دي چي د پاکستان له تأسیسه او د تأریخ په اوږد کي په بو ډول مستقل او د موجوده پاکستان نه جدا او تر ډېره بریده د موجوده نیم افغانستان سره د تأریخ په اوږدو کي خپلوی او ګډي کار نامي لري.
په موجوده ناروا پاکستان کي سرایکیان، سندیان او نو واړه او غټ خلک پراته دي چي د دوی په غوښتنه او ددوی په خوښه د پاکستان په نامه ملک، دا د سرطانی دانه نه ده جوړه شوي او ددوی د مقاصدو لپاره کار نه کوي. د اوسني ناروا پاکستان کي شته خلکو او ملتونو شته او ثروتونه له دوی غصب او اخیستل کېږي او اکثر پنجاب ته وړل کېږي او ددوی فرهنګ، ژبې، اقتصاد او ژوند ته له سره خدمت نه کېږي.

پاکستان کي میشته خلکو ته د پاکستان د قام او پاکستان ملت او د نیشن بلد او یا افغانانو پر خپله تأربخی ځمکه ، له آمو تر أباسینه، مارګلي او أټکه، موقته بي ځایه شوو ته د بعضي قوانینو د نادرسته ترجمو په اصطلاح د مهاجر اطلاق او چلند ، ټولي هغه تېروتني او خطاء کاروني دي چي مونږ اوس اوس له دقته، تعمق او شرمه پرته ورته خطاب او کاروو!
په داسي تېروتنو ، دشمن خدمته اصطلاحاتو کارولو هلته اسارت کي میشته خلکو، پښتنو، بلوڅو، سرایکو او... ته توهین او د پنجاب او د او دا د منلو وړ نه دي، بلکي د جبارانو او ستمګرانو له برنامو سره ، عملاً موافق کار کول دي!
دا غمیزه، سلسله او لست تفاصیل لري او اوږد بحث هم دی چي له بوه ځایه باید پیل شي!

داکتر صلاح سعیدي
۵-۵-۲۴
۰۰۴۴۷۸۸۶۷۴۶۳۸


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په څیر و لولئ